د ۲۰۲۳ له جنوري تر جون پورې

# په افغانستان کې عملیاتي حقایق او شمیرې



## د فزیکي بیارغونې خدمتونه

**۱۰۲۲۲۶**
ناروغانو سره زموږ د فزیکي بیارغونې په **۷** مرکزونو کې مرسته شویده.

**۱۸۳۶۲۰**
فزیوتراپیګانې ترسره شویدي.

**۸۶۱۸**
نوي ناروغان د **۵۴۴** غړو پرې شویو کسانو په ګډون ثبت شویدي.

**۲۶۲**
ناروغانو ته کوچني پورونه ورکړل شویدي.

**۱۵۲۳۶**
پروستسس او ارتوسس (مصنوعي غړي) تولید شویدي.

**۲۵۲۲**
کورنۍ لیدنې له **۲۵۳۴** ناروغانو ترسره شویدي.

**۱۴۳**
ناروغانو حرفوي زدکړې کړیدي.

د فزیکي بیارغونې **یو** مرکز چې **۶۰** بستره لري په لښکرګاه کې جوړ شویدی.

# لـه روغتيـا ځارنـې ملاتـړ

د **۵۸۱۵۴۸ ناروغانـو** درملنـه، چـې ډيرى يـې ښځې او ماشـومان وو د افغـاني سرې مياشـتې پـه **۴۷** كلينيكونـو كـې شـوې چـې آی سي آر سي يـې ملاتـړ كـوي.

**۱۵۵۱۳۵ ډوزه معمـولي واكسـين** د افغـاني سرې مياشـتې تـر ملاتـړ لانـدې **۴٦** روغتيايـي كلينيكونـو كـې تطبيـق شـويدي.

**۵۳۵۲ خوارځواكـي ماشـومان** د افغـاني سرې مياشـتې د تغذيـې لـه پروگرامـه د دغـې ټولنـې پـه **۴٦** كلينيكونـو كـې برخمـن شـوي چـې آی سي آر سي يـې ملاتـړ كـوي.

**۵۷۴ ناروغانـو** پـه كندهـار او لښـكرګاه كـې د روغتيـا ځارنـې پـه مركزونـو كـې لـه رواني چوپړتيـاوو ګټـه پورتـه كړيده.

**۲۵۲ بوتلـه طبـي محلـول** د كنـدز عامـې روغتيـا رياسـت تـه چمتـو شـوي چـې پدغـه ولايـت كـې د سـكابيز (خـارښ) لـه خپريـدو مخنيـوى وشي.

لـه **۳۳ روغتونونـو** سره چـې د **۷۰۵۷** بسـترونو ظرفيـت لـري او **۲٦** ميليونو كسـانو تـه روغتيايي خدمتونـه وړانديې كـوي، ملاتـړ شـوى او د **۱۰۹۰۰** روغتيايـي كاركوونكـو معاشـونه وركـړل شـوي او ورځنـي لګښـتونه يې هم برابر شـويدي.

**۱۳٦۲٦۵ ماشومان** د آی سي آر سي تر ملاتړ لاندې **۳۳** روغتونونو كې زيږيدلي دي.

د **۴۰۱۸۵۵۲ تنـو ناروغانـو** درملنـه (بسـتر دننـه او بهـر) پـه هغـو **۳۳** روغتونونـو كـې شـوې چـې آی سي آر سي يـې ملاتـړ كـوي.

**۴۱٦۵ زده كوونكـو** د غضنفـر پـه **۹** روغتيايـي سـاينسي انسـتيټوټونو كـې پـه بيلابيلـو تخنيكـي روزنيـزو پروګرامونـو كـې نومونـه ثبـت كړيـدي. **۱۷۱** تنـه محصليـن، چـې ډيرى يـې نرسـانې او قابلـې وې، فـارغ شـويدي.

د بهرنيـو چـارو وزارت **۱۵ كاركوونكـو** د لومړنيـو مرسـتو **۱** روزنيـزې غونـډه كـې برخـه اخيسـتې او  هغـوى تـه د لومړنيـو مرسـتو **۱۵**بسـتې هـم وركـړل شـويدي.

**د بيړنيـو روغتيايـي مرسـتو ۳۴۱** كڅـوړې روغتونونـو او د روغتيـا ځارنـې اساسي مركزونـو تـه وركـړل شـوي چـې د پيښـو لـه قربانيانـو سره مرسـته وشي، پـدې توګـه بـه د **۵۹۵** تنـو ټپيانـو درملنـه وشي.

**۹ عامـه او د سرې مياشـتې لومړني روغتيايـي كلينيكونـه** بيـا ورغـول شـول او ناروغانـو لـه بسـتر بهـر شـو خدمتونـو تـه لاسرسـى ومونـد.

پـه كندهـار كـې ميرويـس حـوزوي روغتـون چـې د **٦۲۰ بسـترونو** وړتيـا لـري د برښـنا عمومـي شـبكې ځانګـړي ليـن سره ونښـلول شـوه، چـې كاري وضعيـت يـې ښـه او دوامـداره برښـنا برابـره شي.

فراه ولايتي روغتون ته چې د **۱۲۰** بسترونو وړتيا لري د پاكو اوبو سيستم جوړ شو.

يـوه ښـځه خپلـې خوارځواكـې لمسـۍ تـه د كندهـار **ميرويـس حـوزوي روغتـون** كـې خـواړه وركـوي.



J. Barry/ICRC




Z. Barmak/ICRC

د روغتیا ساتنې او ژمي توکي لکه کمپلې د هرات په ولایتي محبس کې ویشل کېږي.

# د زندانونو د وضعیت ښه والی

## ١٤

لیدنې له ١١ زندانونو ترسره شوي چې پکې ٩٦٢٦ تنه زندانیان ساتل کېږي.

## ١٢٠٠٠

زندانیانو د ټول هیواد په ١١ محبسونو کې د خوړو مياشتينۍ بستې ترلاسه کړې چې د ورځې درې وخته خوړو ته لاسرسی ولري. سربیره پر دې، د عامې روغتیا وزارت ارتباطي مسوولو کسانو ته د هیواد په ١١ زندانونو کې په کابل، مزار شریف، کندهار او هرات کې د خوړو د ځنځیر په اړه روزنیزې غونډې جوړې شوې چې د خوړو ځنځیر مدیریت ښه شي.

## ٧٠

خوارځواکو زندانیانو په هرات ولایتي محبس کې د خوړو اضافي بستې ترلاسه کړې او درملنه یې هم شوې چې وضعیت یې ښه شي.

## ١٠٧١٧

زندانیان په ١٣ زندانونو کې د ژوندانه له ښه وضعیته وروسته له هغې برخمن شول چې د بوختیا / ورزشي وسایل او د روغتیا ساتنې توکي چمتو او زیر بنایي چارې سرته ورسیدلې.

## ١١

زندانونو کې لوښي لکه بشقابونه، پیالې، کاشوغې او نور وسایل ویشل شویدي، ترڅو د خوړو ویش په مساویانه او د روغتیا ساتنې په پام کې نیولو سره زندانیانو ته ترسره شي.

## ٤٧٦٦

زندانیان په پلچرخي او ننګرهار ولایتي محبسونو کې وروسته له هغې باکیفیته خوړو ته لاسرسی وموند چې د زندانونو پخلنځیو ته اوړه او نور اړین توکي برابر شول. سربیره پر دې، ١٨ زندانیان د ډوډۍ پخولو په برخه کې روزل شویدي.

## ٦٤٢٢

زندانیان د روغتیا ساتنې او ساتنې او څارنې کمیټو له بیا جوړیدو او همدارنګه د توکو له برابرولو او د ساتنې او څارنې له چارو په ٦ زندانونو کې برخمن شویدي.

## ٢١٠٠

زندانیانو په پلچرخي زندان او توقیفځایونو کې کمپلې، روجایي ګانې او بالښتونه لاس ته راوړي، ترڅو د ژوندانه وضعیت یې ښه شي.

## ٨

ګډې نظارتي لیدنې د عامې روغتیا وزارت او د زندانونو د چارو ریاست سره یوځای د هرات، فراه، هلمند، کندهار، خوست، غزني، ننګرهار او غزني له محبسونو ترسره شویدي.

**د ۳۰۶**
خوارځواکو زندانیانو درملنه د تغذیې د یوې ازمېښتي پروژې په ترڅ کې په هرات کې شوې چې له هغې ډلې **۱۱۰** تنه په منځنۍ حادې خوارځواکي او **۱۹۶** تنه په شدیدې حادې خوارځواکي اخته وو. د ورځنۍ درملنې په توګه هغوی ته روغتیايي خواړه چمتو شوي او د زنداني عمومي وضعیت ته په کتنه به د هغوی درملنه هم وشي.

آی سي آر سي د سرپوزې زندان د ښځو څانګې کلینیک په اړینو وسایلو سمبال کړی، ترڅو ښځینه زندانیانې روغتیايي خدمتونو ته لاسرسی ولري.

**۵۰۷۵**
زندانیان په سرپوزې او هرات ولایتي محبسونو کې **۳۳۰۱۷** ځلي د زندانونو د روغتیايي خدمتونو کڅوړې د یوې برخې په توګه معاینه شویدي. موږ له عامې روغتیا وزارت سره مالي، لوژستیکي او تخنیکي ملاتړ کوو چې دغه خدمتونه پلي کړي.

د فزیکي بیارغونې خدمتونه د کابل، پروان، هرات، جلال آباد، مزار شریف، بدخشان او لښکرګاه زندانونو معلولیت لرونکو زندانیانو ته چمتو شویدي.

**۷۴۱**
زندانیان او نوي ځوانان په بلخ ولایتي محبس او د کابل په دارالتادیب کې د آی سي آر سي له مرستو برخمن شوي، ترڅو د سکابیز (خارښ) له خپریدو مخنوی وشي.

**۱۳**
ولایتي کاري ډلې او د زندانونو روغتیايي کمیټې چې آی سي آر سي یې ملاتړ کوي د عامې روغتیا وزارت په سیستم کې شاملې شوي چې په زندانونو کې د روغتیايي خدمتونو له برابرولو نظارت کوي.


P.A. Faizi/ICRC

مرضیې (مستعار نوم) له غزني ولایته د کورنیو اړیکو د بیا ټینګولو پروګرام له لارې خپل یو خپلوان موند.

## د کورنیو تر منځ د اړیکو ټینګول

د لادرکې **۸۷** قضیې حل او د ورکو شویو کسانو پتې موندل شویدي.

**۲** ویډیويي اړیکې نیول شوي او د سره صلیب **۲۴** پیغامونه (کورني خبرونه) په ګوانتانامو کې د زندانیانو او په افغانستان کې د هغوی د کورنیو تر منځ تبادله شویدي.

د سره صلیب **۶۰** پیغامونه او **۱۹** سلامت (زه خوندي یم شفاهي پیغامونه) د زندانیانو او د هغوی د کورنیو ترمنځ تبادله شوي او د سره صلیب **۹۵** پیغامونه له ملکي وګړو راټول او یا هم ویشل شویدي.

**۱** تن د Trace the Face انټرنټي سایټ له لارې خپلې کورنۍ سره اړیکه نیولې ده.

**۱۴۰۰** تنو له آی سي آر سي سره په افغانستان کې اړیکه نیولې چې د خپلو خپلوانو په اړه معلومات ترلاسه کړي.

## له ملکي وګړو ملاتړ

آی سي آر سي بشري وضعیت څاري او د اړتیا په صورت کې له وسله والو سره خپلې اندېښنې په دوه اړخیزه او محرمانه توګه شریکوي، ترڅو په چال چلند کې یې بدلون راشي او د خلکو په حقوقو له تیري مخنیوی وشي.

## په درنښت د مړیو مدیریت

د آی سي آر سي د مړیو لیږد پروګرام په چوکاټ کې، د افغاني سرې میاشتې په مرسته ٦ مړي موندل، لیږدول او کورنیو ته یې سپارل شویدي.

یوه یو ورځنۍ روزنیزه غونډه د افغاني سرې میاشتې ټولنې د مړیو د لیږد پروګرام ۲۰ کارکوونکو او خپلخوښو ته جوړه شوې ده.

د عدلي طب یو پنځه ورځنی تخصصي پروګرام د هرات، فراه، بادغیس او غور ولایتونو د عدلي طب ریاستونو ۲۵ کارکوونکو ته جوړ شویدی.

---

د عدلي طب په اړه یوه درې ورځنۍ غونډه په هرات کې د قانون د انفاذ ریاست ۲۵ غړو ته په هرات کې جوړه شوېده.

د ګردي میز یوه غونډه د پروان ولایت له پوځي چارواکو سره د جنګیالیو د مړیو مدیریت په اړه جوړه شوېده.

له ۲۸ آمریتونو څخه د عدلي طب ۱۹۹ کارکوونکو د هغه هوکړه لیک له مخې چې د عامې روغتیا وزارت سره شوی د ۲۰۲۳ له جنوري تر جون پورې خپل معاشونه ترلاسه کړي.

---

۳۳ ځلي د شخصي ځان ساتنې وسایل، د مړیو کڅوړې، ضد عفوني کوونکي توکي او د دفتر وسایل د سرې میاشتې ٦ سیمه ییزو دفترونو، د کابل عدلي طب ریاست او د عدلي طب ۲٦ ولایتي آمریتونو ته چمتو شویدي.

د معلوماتي ټکنالوژي او نور وسایل د کابل عدلي طب ریاست او د خوست، هلمند او پروان ولایتي آمریتونو ته چمتو شویدي.

د سړې خونې ۱ فریزر چې ۱۲ خونې لري د لښکرګاه په بست روغتون کې ترمیم شویدی.


A. S. Roshan/ICRC

آی سي آر سي د فراه ولایت په خرمالق سیمه کې د اوبو لاسي پمپ ترمیم کړ چې خلکو ته د څښاک پاکې اوبه چمتو شي.

## خلکو سره مرسته

**۳۵۲۵** کورنیو (**۲۸۲۰۰** تنو) په غزني، لښکرګاه، هرات او پنجشیر کې نغدي مرستې ترلاسه کړې، چې اړتیاوې یې تامین شي.

**۲۰۱** کورنیو (**۱۹۳۱** تنو) چې د بشري قانون د نه مراعتولو او یا د وسلو ککړتیا له امله اغیزمن شوي وې نغدي مرستې ترلاسه کړې چې د پیښو مالي اغیزې کمې شي.

**۳۹۳** کورنۍ (**۳۱۴۴** کورنۍ) په الینګار کې د کار په وړاندې د نغدو پیسو پروژو د تطبیق له ګټو برخمنې شوې او د اوبو لګولو کانالونه یې پاک شول.

**۴۶۸** امیندواره او شیدې ورکوونکې میندې د تغذیې په اړه د هغو کسانو لخوا وروزل شوې چې آی سي آر سي روزلي وې او همدارنګه د خوارځواکۍ د تشخیص لپاره سکرینینګ شوې او روغتیايي خدمتونو لپاره معرفي شویدې. نوموړو ښځو سره مالي مرستې هم شویدي چې بیلابیل خواړه اخیستلای وشي او له خوارځواکۍ مخنیوی وشي.

**۴۳۴۰۴۰** تنه وروسته له هغې د برښنا له انرژۍ برخمن شول چې د افغانستان برښنا شرکت ته **۷۵۰۰۰** لیټره سون توکي، **۳** ډیزلي جنراتورونه، الکتریکي وسایل او ټرانسفارمر چمتو شول.

**۱۷۱۱۳۸** تنه په ښاري سیمو کې د اوبو رسولو شبکو او د زیربنايي بیا رغونو او د جنراتورونو، اړینو وسایلو او اضافي پرزو له برابرولو وروسته د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی وموند.

**۱۸۷۲۷۴** تنه په کلیوالي سیمو کې وروسته له هغې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی ومومند چې **۴۴۵** لاسي پمپونه، د اوبو رسولو **۳** شبکې او د شګو **۲۱۹** فلترونه ترمیم شول.

# افغاني سرې میاشتې ټولنې سره همکاري

۴۰ ګډونوالو د افغاني سرې میاشتې ټولنې له ټولو شمالي او شمال ختیځو سیمو دفترونو او د آی سي آر سي ۳ کارکوونکو د پروژو مدیریت او د بشري غبرګون په برخه کې د ظرفیت لوړونې کورس پای ته ورسوه.

۱۰۰۰ کورنیو (۸۰۰۰ تنو) په هرات کې په یوه ګډه پروژه کې نغدې مرستې ترلاسه کړې، ترڅو اړتیاوې یې پوره شي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې ۱۷ کلینیکونو روغتیایي خواړه لاس ته راوړي چې د ناروغانو تغذیه ښه شي.

د روغتیا څارنې ۱۴ مرکزونو د انټروپومټریک وسایل ترلاسه کړیدي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې ۶۰ کلینیکي کارکوونکو د روغتیا څارنې په خطر کې، د کتلوي معافیت تجدیدي کورس، د مور او ماشوم روغتیا او د روغتیایي مدیریت د معلوماتي سیستم په اړه بیلابیلې تخنیکي روزنې ترسره کړیدي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې ۴۹ کلینیکي او مدیریتي کارکوونکو د روغتیا څارنې په خطر کې په هکله غونډو کې برخه اخیستې ده.

۲۵ تخنیکي غونډې د افغاني سرې میاشتې ټولنې له کلینیکي او سیمه ییزو روغتیایي کارکوونکو سره په ۷ دفترونو کې ترسره شوې.

د سرې میاشتې ۷ روغتیایي مرکزونه ترمیم او بیارغول شوي دي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې ۶۷ کارکوونکو او خپلخوښو د خوندي لاسرسي په اړه روزنه ترسره کړیده.

افغاني سرې میاشتې ټولنې د ۱۰۵ تنو کارکوونکو (د لومړنیو روغتیایي مرکزونو د ۵۰ تنو کارکوونکو په ګډون) د معاشونو، د ۴۲ دفترونو د ورځنیو لګښتونو او د بیا رغونې د کوچنیو پروژو لپاره مالي مرستې ترلاسه کړیدي. سربیره پر دې، ۱۶ لنډکروزر موټرونه او څلور لپ ټاپ کمپیوټرونه یې هم ترلاسه کړیدي.

۴۰ تنو روزونکو د افغاني سرې میاشتې ټولنې له مرکزي، سیمه ییزو او ولایتي دفترونو څخه په سره میاشت کې د استخدام په برخه کې د روزونکو د روزنې په ورکشاپ کې برخه واخیسته.

د خوندي لاسرسي په هکله ۳۲۰۰ کوچني کتابونه په پښتو، دري او انګلیسي ژبو او همدارګه د سرې میاشتې ۳۰۰۰ بیرغونه او سټیکرونه چمتو شویدي.

د افغاني سرې میاشتې له ولایتي څانګو ۲۶ کارکوونکو او خپلخوښو د سرې میاشتې د استخدام په روزنیزو غونډو کې برخه اخیستې ده.

د سرې میاشتې سیمه ییزو دفترونو او نمایندګیو ته د کارکوونکو د خوندیتوب او امنیت لپاره ۷ ارزونې ترسره شویدي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې او آی سي آر سي د همکارۍ په اړه د همغږۍ ۷ ورکشاپونه د سرې میاشتې ۱۰۵ کارکوونکو ته جوړ شویدي.

# د وسلو ککړتیا ته رسېدنه

له آی سي آر سي څخه ۶ ګډوانوالو او د افغاني سرې میاشتې ۴ کارکوونکو د روزونکو په تجدیدي روزنو کې برخه اخیستې چې د خطرونو د پوهاوي، د خوندي چلند او د کارکوونکو د خوندیتوب په هکله وې.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د ۱۵۷ تنو کارکوونکو د خوندیتوب په روزنو کې برخه اخیستې ده.

د وسلو ککړتیا د پېښو ۲۰۰ راپورونه ټول شویدي.

# د نړیوال بشرپال حقوقو خپرول


د سرې میاشتې مشرتابه او حقوقي سلاکار ته د نوي قانون په هکله **تخنیکي او حقوقي مشورې** ورکول شوي چې د نښان کارونه او د ملي ټولنې دریځ تنظیموي.

د کورنیو چارو وزارت **٦٥٨** تنو کارکوونکو د بشر حقوقو د نړیوال قانون، آی سي آر سي او له قوې ځخه د ګټنې په هکله غونډو کې برخه اخیستې ده.

# عملیاتي ارتباطات او خلکو سره ګډ کار

د عملیاتي ارتباطانو او خلکو سره د ګډ کار **۳۶** غونډې جوړې شویدي. پدغو غونډو کې له ټول هیواده **۱۲۸۰** تنو مشرانو او خلکو ګډون کړی وو.

د روژه ماتي **۲۴** غونډې د آی سي آر سي په بیلابیلو دفترونو کې د روژې په مبارکې میاشت کې جوړې شوي چې **۷٦۴** مذهبي او د خلکو مشرانو او د آی سي آر سي ارتباطي کسانو پکې برخه اخیستې وه.




**د لا نورو معلوماتو لپاره:**
kabul@icrc.org


**په کابل کې مرکزي نمایندګی**
۱۵ سرک، ۱ کوڅه، ٤ کور
وزیر اکبر خان، کابل
تماس: ۰۷۹۹۵۵۰۰۵۵
برښنالیک: kabul@icrc.org
www.icrc.org



آی سي آر سي آګست ۲۰۲۳


facebook.com/ICRCaf
twitter.com/ICRC_af
instagram.com/icrc

ICRC


Cover photo: A.Wakil/ICRC